# سادات: د کاندیدانو د لومړني لېست د اعلام لپاره تیار یوو

د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وایي چې د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو د لومړني لېست د اعلام لپاره تخنیکي تیار یوو. د دغه کمېسیون یوه ویاند ذبیح سادات ورم، مابنام ازادي راډیو ته وویل چې په‌دې اړه د کمېسیون د غړو د پرېکړې په تمه دی. دی وايي: «د ټاکنو خپلواک کمېسیون تصمیم لري چې د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو لومړنی لېست خپور کړي. په‌دې اړه ټولې تخنیکي چارې بشپړې شوې دي. یوازې د غړو پرېکړې ته اړ یوو، چې د ولسمشرۍ ټاکنو د مهالوېش پر اساس پرون د سلواغې ۲۶مه موږ د ولسمشرۍ انتخاباتو د کاندیدانو لومړنی لېست خپور کړو.» د ښاغلي سادات تر دې څرګندونو څو ساعته وړاندې د انتخاباتو د خپلواک کمېسیون یوې مرستیال ویاندې شیما علم سروش وویل چې د لست شویو کسانو د تابعیت په اړه تاشیرې ارزونې، بنایي د دغه لومړني لېست اعلام له ځنډ سره مخامخ کړي. د انتخاباتو خپلواک کمېسیون وایي چې د ولسمشرۍ انتخابات به د راتلونکي لمریز کال د چنګاښ په ۲۹مه کوي. په‌دغو انتخاباتو کې د سیالۍ لپاره ۱۸ کسانو خپل نومونه ثبت کړي دي.

Ketabton.com

# ...مپ د افغان سولې لپاره خبرې ...ورځ هلې ځلې او پر طالبانو فشار بللی

...مشر ...د هغې ...به هم

حکړه پای ته ورسېږي، خو د دوشنبې په ورځ د امریکا کانګرس په ټوی اکثریت سره د ښاغلي ټرمپ هغه پلان

رد کړ، چې غواړي له دغو دوو هېوادونو بې‌وخته خپل ځواکونه وباسي

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**